مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ خلورمه | د ۲۰۱۹ د جون ۲۵مه | دریيم کال| ۳۹۳یمه گڼه

# شنونکي: د ډیورنډ په تړاو تصمیم یوازې د دواړو خواوو ولسونه نیولی شي



۳

## ځېره

۴ مخ



**محمد مُرسي**

٦٧ کلن محمد مُرسي په داسې حال کې ومړ، چې د زړه او شکر پر ناروغۍ اخته، په هغه قفس کې اچول شوی چې هېڅ غږ نه ترې وځي او محکمې ته د جاسوسۍ په تور روان و.

## په ننگرهار کې د یو نیم میلیارد افغانیو په لگښت پروژې پیل شوې دي



د ننگرهار په خوږیانو او سره رود ولسوالیو کې د نږدې یو نیم میلیاردو افغانیو په لگښت بېلابېلې رغنیزې پروژې پیل شوې دي او چارواکي وایي چې د دغو پروژو له گټو به زرگونه خلک برخمن شي.

د دغه ولایت مقام د معلوماتو له مخې، په دغو پروژو کې د ۴۵ ښوونځیو جوړول هم شامل دي، چې ۲۲۰ میلیونه افغانۍ لگښت به ولري.

د چارواکو په خبره، د سکتوري ادارو له لوري د ۲۲ پروگرامونو له لارې په سلگونه لویې او وړې پروژې د ۸۸۰ میلیونو افغانیو په لگښت په پلان کې دي او یا هم عملاً تر کار لاندې دي. دوی وایي، په یادو پروژو کې د ۲۳۴ میلیونو افغانیو په لگښت د ولسي تړون پروگرام اړوند ۱۴۲ پروژې، د ۹۵ میلیونو افغانیو په لگښت د ۱۷ ښوونځیو د ودانیو جوړول او د ۲۹۹ میلیونو افغانیو په لگښت د کرنې، کډوالو، سیندیزې حوزې، کلیو پراختیا، پوهنې، عامې روغتیا او ځینو نورو ادارو پروژې شاملې دي.

### د ولسمشرۍ ټاکنې او د نه منلو وړ لوبې د تکرار وېره

۲ مخ

### په افغانستان کې د جنگي جرمونو له څېړلو سره مخالفت، یوه حقوقي ارزونه

۲ مخ

### درناوی، ستاینه او د امنیت احساس باور رامنځته کوي

۳ مخ

## د رسنیو ملاتړي بنسټونه: هېڅ ډله نه شي کولای چې رسنیو ته نظامي گواښ وکړي

وسله والو طالبانو په ځینو رسنیو کې د دوی پر وړاندې د اعلانونو پر خپرولو غبرگون ښودلی او د هر ډول تبلیغاتو د بندولو غوښتنه یې کړې ده. طالبانو په یوه اعلامیه کې ویلي، چې په مرکز او ولایتونو کې ځینې رسنۍ د سوداگریزو اعلانونو په نوم د طالبانو خلاف تبلیغات کوي او خلک د طالبانو خلاف راپارول کېږي.

طالبانو رسنیو ته خبرداری ورکړی، چې د دوی خلاف له تبلیغاتو لاس واخلي او که تر راتلونکې یوې اونۍ دغه ناسم تبلیغات بند نه شي، دوی به یې په خپلو نظامي اهدافو کې شاملې کړي.

د وسله والو طالبانو دغه خبرداري له رسنیو ملاتړې اداري اندېښمنې کړې او وایي، چې هېڅ ډله د ملي او نړیوالو قوانینو پر اساس نه شي کولی چې رسنیو ته خبرداری ورکړي.

د رسنیو ملاتړي بنسټونه له حکومت څخه غوښتنه کوي چې د خبریالانو خوندیتوب ته دې جدي پاملرنه وکړي.

د ازادو رسنیو د ملاتړ اداري اجرایه رییس مجیب خلوتگر وایي: «د طالبانو دغه گواښ رسنیو ته لوی گواښ دی، د ملي او نړیوالو قوانینو له مخې هېڅ ډله نه شي کولای چې رسنیو ته په نظامي ډول گواښ وکړي، له حکومته غواړو چې په جدي توگه د رسنیو د خوندیتوب لپاره اقدام وکړي». طالبان داسې مهال افغان رسنیو ته خبرداری ورکوي، چې د رسنیو ملاتړي بنسټونه وایي، د روان کال په شپږو میاشتو کې د خبریالانو پر وړاندې ۳۵ موارده د تاوتریخوالي قضیې هم ثبت شوې، چې ۵ یې د قتل، ٦ یې د ټپي کېدو، ۱۷ د تهدید او توهین، ۳ یې پر رسنیو بریدونه، ۳ مورده وهل او ټکول او یو مورد یې هم د رسنیزو نقلیه وسیلو انفجار دی.

## په ولسمشریزو ټاکنو کې هم له بایومټریک سیستم څخه گټه اخیستل کېږي



۲ مخ

## د نوماندانو شورا: نن په غازي لوبغالي کې د حکومت خلاف ستره غونډه جوړوو



د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو شورا وایي، نن به په غازي لوبغالي کې د حکومت خلاف پراخه غونډه وکړي.


د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان وایي، چې حکومت د جوزا تر لومړۍ نېټې وروسته په ناقانونه توگه خپلې چارې پرمخ وړي او د دغه حکومت د دوام په صورت کې دوی حاضر نه دي، چې په ټاکنو کې گډون وکړي.

د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو شورا وایي، چې د حکومت مشران دې یا ټاکنو ته له نوماندۍ تېر شي او یا دې بل حکومت ته چارې پرېږدي، چې ټاکنې او سوله دواړه مدیریت کړي.

د ټاکنیزو نوماندانو د شورا دغه خبرداری داسې مهال دی، چې راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته یوازې دوې میاشتې پاتې دي او له بل پلوه د ملي یووالي حکومت دوره هم د غبرگولي په لومړۍ پای ته ورسېده.

نوماندان د ملي یووالي حکومت مشران د ټاکنو په مهندسي کولو تورنوي او وایي چې په حکومت کې روانې گومارنې هم د ټاکنو د مهندسي کولو په موخه کوي، ځکه د دوی په خبره، د قانون له مخې د ملي یووالي حکومت کاري موده پای ته رسېدلې او اوسنۍ ټولې گومارنې غیر قانوني دي.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019




Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـــځ

### د ولسمشرۍ ټاکنې او د نه منلو وړ لوبې د تکرار وېره

د قانون نه پلي کېدل او اصولو ته نه درناوی پر بې عدالتۍ سربېره، د قانون ماتونې د دودکېدو لامل کېږي. کله چې په یوه مورد کې د لوبې کوم ښکېل اړخ اصول تر پښو لاندې کړي او د دغه کار له عواقبو سره مخ نه شي، نور کسان هم په راتلونکي کې د مقرراتو د تر پښو لاندې کولو هڅه کوي، ځکه پوهېږي چې له کوم غبرگون سره نه مخ کېږي.

د افغانستان د سیاست په لوبه کې متاسفانه د ۲۰۱۴ ز کال د ولسمشرۍ ټاکنو د جنجالي کېدو پر مهال د یوه ناسم دود بنسټ کېښودل شو. کله چې په ټاکنو کې د پراخو درغلیو ادعاوو زور واخیست، د قانون د پلي کېدو پر ځای د وضعیت د لا ترینگلتیا د مخنیوي په پلمه سیاسي جوړجاړي ته لومړیتوب ورکړل شو. په دې ډول پر اساسي قانون معامله وشوه او داسې حکومت رامنځته شو، چې په قانون کې یې وړاندوینه نه وه شوې. سره له دې چې د دغه حکومت ناکامي له پیله معلومه وه، خو د واک تندې دوه مخکښ نوماندان په داسې یوه جوړښت کې گډ کار ته مجبور کړل، چې د بریا فرصت یې د نشت تر بریده لړ و.

سره له دې چې ټاکنیز اصلاحات د ملي یووالي حکومت د هوکړې عمده برخه وه، دولت د خپلې واکمنۍ په ټوله موده کې د یوه داسې ټاکنیز نظام او ټاکنیزو کمېسیونونو پر رامنځته کولو بریالی نه شو، چې پر رایه ورکوونکو سربېره، په ټاکنو کې د کاندیدانو په توگه د گډونکوونکو کسانو باور دې خپل کړلی شي. په داسې حال کې چې د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره یوازې څه باندې دوې میاشتې پاتې دي، لا هم د ولسمشرۍ ټول کاندیدان پر داسې اصولو او کړنلارو عمومي هوکړې ته نه دي رسېدلي، چې د ټاکنو د پایلو د منلو ډاډ ورکولی شي. لا هم کاندیدان د ملي یووالي حکومت مشران، په ځانگړې ډول د ولسمشر اشرف غني ټیم، تورنوي چې له دولتي امکاناتو د ټاکنیزو موخو لپاره گټه اخلي. دوی په حکومت کې وروستیو بدلونونو ته هم د ټاکنیزو هڅو په سترگه گوري او د ولسمشر غني دغه کار د قانون خلاف بولي.

که تر ټاکنو وړاندې د ولسمشرۍ ټول کاندیدان د ټاکنو د اصولو او کړنلارو په اړه هوکړې ته ونه رسېږي، راتلونکې ټاکنې هم د تېرو ټاکنو له برخلیک سره مخ کېدای او د نه منلو لوبه پیلېدلی شي. غوره به دا وي چې د ولسمشرۍ کاندیدان او ټاکنیز ټیمونه یې د ټاکنو د روڼتیا له تضمین سره مرسته وکړي، ځکه همدا ټیمونه او ځینې پلویان یې په ټاکنو کې درغلي کوي. که ټاکنیز ټیمونه په ټاکنو کې د نه لاسوهنې او د پایلو د منلو په اړه هوکړې ته ورسېږي، افغانستان له یوه بل ټاکنیز او سیاسي کړکېچ څخه ژغورل کېدای شي. که د ټاکنو په تړاو د کاندیدانو دریځونه همداسې وېشلي وي، افغانستان به د ۲۰۱۹ ز کال د ولسمشرۍ ټاکنې هم د یوه پیاوړي او مقدر دولت څښتن نه کړي.

# په افغانستان کې د جنگي جرمونو له څېړلو سره مخالفت، یوه حقوقي ارزونه

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

له بده مرغه چې زموږ په گران هېواد افغانستان کې له دریو لسیزو راهیسې جگړه روانه ده او نه یوازې د هېواد مادي او معنوي شتمنۍ یې له منځه وړې، بلکې د جگړې د ښکېلو خواوو له لوري داسې کړنې شوې چې د انساني کرامت، اسلامي شریعت، د بشردوستۍ نړیوال قانون او نړیوالې جنایي محکمې له اساسنامې سره په بشپړه توگه خلاف او ټول جنگي او د بشریت پر ضد جنایتونه دي. په دې وروستیو کې د نړیوالې جنایي محکمې څارنوالې فاتو بېنسودا (Fatou Bensouda) له نړیوالې جنایي محکمې څخه غوښتې، چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له خوا د جنگي جرمونو د څېړلو د مخنیوي په اړه وضاحت ورکړي؛ ځکه دغې څارنوالې پخوا له نړیوالې جنایي محکمې غوښتي وو چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له خوا ترسره شوي جنگي جرمونه دې وڅېړل شي او په اړه یې باید نړیواله جنایي محکمه عادلانه پرېکړه وکړي.

جنگي جرمونه کوم دي؟ په افغانستان کې د امریکایانو له لوري تر سره شوي جرمونه، د دغو جرمونو د څېړلو لپاره د نړیوالې محکمې صلاحیت او مسوولیت څه دی او د محکمې د غوښتنو په اړه امریکا څه دریځ لري؟ دغو پوښتنو ته په تحلیل کې ځواب ویل شوی دی.

**جنگي جرمونه کوم دي؟**

د ملگرو ملتونو د منشور له مخې جنگي جرمونه په لاندې ډول دي:

۱ـ هر ډول جگړېیز او تېري کوونکی عمل چې د سولې پر ضد وي.

۲ـ د هر قوم او قبیلې پر غیر نظامیانو باندې بې رحمانه ظلمونه.

۳ـ ډله ییزې وژنې، د خلکو کوچول، په ډله ییزه توگه په زندانونو او نورو ځایونو کې د خلکو اچول.

د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې د اتمې مادې پر اساس جنگي جرمونه په دې ډول په نښه شوي دي:

۱ـ د هغو اموالو تخریب چې د نظامي اړتیاوو په موخه ترې گټه نه اخیستل کېږي.

۲ـ له جنگي بندیانو او هغو اشخاصو سره چې په خپله خوښه تسلیم شوي وي، ناوړه چلند او د هغوی او نورو اشخاصو په اجباري ډول د جگړې په لیکو کې جذبول.

۳ـ د ښارونو، کلیو، بې دفاع ساختمانونو چې نظامي اهداف نه وي، بمبارول یا پرې حمله کول.

۴ـ د داسې اسلحو، توپونو او موادو کارول چې زیات ضرر لري.

۵ـ جنسي تیری.

٦ـ د انسان پر جسم او ځان باندې تاوتریخوالی په ځانگړې توگه وژب، بې رحمانه شکنجه ورکول او داسې نور.

**په افغانستان کې د امریکایانو لخوا تر سره شوي جرمونه**

له ۲۰۰۱ ز کال وروسته چې امریکایانو په افغانستان کې خپل نظامي حضور پیل کړ، له هغه وخت نه یې په افغانستان کې خپل نظامي وسایل او اسلحې د امتحان په پار د افغانستان په خاوره کې استعمال کړلې او اوس یې هم استعمالوي. دوی په افغانستان کې په ودونو، جنازو، مسجدونو، روغتونونو، کلیو او بانډو کې هغه اسلحې او بمونه استعمال کړل، چې د هغه استعمال د نړیوالې ټولنې لخوا منع شوی دی. د بېلگې په ډول، د ننگرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې د بمونو د مور استعمال چې د ملي یووالي حکومت لخوا د دې ډول بمونو د استعمال تود هر کلی هم وشو.

همدا ډول دDaisy cutter, cruse, AGM missile او د GM-13 موشکونو استعمال د ننگرهار په توره بوره، د هلمند په مارجه، د کندهار په میوند او ډېری داسې نورو سیمو کې د دوی له لوري استعمال شوي او اوس هم استعمالیږي.

**نړیواله جنایي محکمه کومو جرمونو ته د رسیده گۍ واک لري؟**

د جنایي جرمونو نړیواله محکمه (International Criminal Court (ICC د هالنډ په هاگ کې، د ۲۰۰۲ ز کال په جولای میاشت کې جوړه شوه. د دغې محکمې اساسي دنده دا ده، چې د دغې ادارې د تاسیس له نېټې راوروسته په غړو هېوادونو کې جنگي جرمونه، ټولوژنې، د بشر ضد جرمونه او نورې ورته قضیې وپلټي. نوموړې اداره یوازې د هغو حقیقي افرادو د جرمونو قضیې څېړي، چې عمر یې تر ۱۸ کلونو پورته وي او د تورنو کسانو رسمي پوست او مرتبه هم د دغې محکمې پر صلاحیتونو څه اغېز نه لري.

د هاک نړیواله محکمه کې د افغانستان په شمول ۱۲۲ هېوادونه شامل دي. د نړۍ له مهمو هېوادونو څخه چین، روسیه او امریکا چې د ملگرو ملتونو د امنیت شورا دایمي غړي دي، که څه هم په ۱۹۹۸ ز کال کې، په روم کې د دغې محکمې اساسنامه لاسلیک کړې؛ خو لا یې هم د دغې محکمې غړیتوب نه دی اخیستی.

افغانستان په ۱۳۸۱ هجري لمریز کال د دلوې په ۲۱مه چې د ۲۰۰۳ ز کال د فبرورۍ له لسمې نېټې سره سمون لري، دا اساسنامه لاسلیک کړې ده او دا چې هغه مهال افغانستان پارلمان نه درلود، نو د افغانستان لاسلیک پرته له دې چې تصویب شي، د اعتبار وړ گڼل شوی او غړیتوب یې حاصل کړی دی.

د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې په پنځمه ماده کې د محکمې تر صلاحیت لاندې څلور ډوله جرمونه قرار لري چې په لاندې ډول دي:

۱ـ د نسل وژنې جرمونه: د شپږمې مادې پر اساس، هر هغه عمل چې د هغه په واسطه یوه برخه او یا ټوله برخه د ملت، قوم، نژاد او مذهب د نابودۍ سبب شي، دېته نسل وژنه وایي.

۲ـ د بشریت پر ضد جرمونه: هر هغه عمل چې هغه د غیر نظامیانو پر وړاندې تر سره کیږي، که هغه قتل دی، که په غلامۍ نیول دي یا هم له خپلې خاورې شړل دي، دا دې بشریت پر ضد جرمونه دي.

۳ـ جنگي جرمونه: نړیوالې جنایي محکمې جنگي جرمونه تقریباً په ۲٦ برخو باندې وېشلي، چې دلته یې قصدي وژنه، شکنجه، د کورونو، ښارونو او کلیو بمبارول، بې دلیله بندیانول او دېته ورته اعمال د بېلگې په ډول راوړلی شو.

۴ـ د تجاوز جرمونه: له دې جرم نه یې مطلب د هېواد ارضي تمامیت دی؛ خو د هېوادونو د اختلاف نظر د موجودیت له امله یې په اساسنامه کې نه دی تعریف کړی.

د پورتنیو جرمونو له ډلې یو هم جنگي جرم دی چې د یادې اساسنامې د پنځمې مادې په اساس نړیواله جنایي محکمه دې ډول جرمونو ته د رسیده گۍ واک لري او کولای شي چې مرتکبین یې مجازات کړي.

**ایا پر امریکا د نړیوالې جنایي محکمې پرېکړې تطبیق کېدای شي؟**

پر دولتونو باندې د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې د احکامو د تطبیق له حیثه موږ د نړۍ ټول دولتونه پر درې ډوله وېشو:

**لومړی:** هغه هېوادونه دي چې اساسنامه یې لاسلیک کړې او هم یې د خپل هېواد په پارلمان کې تصویب کړې ده. دغو هېوادونو د محکمې غړیتوب تر لاسه کړی دی او د محکمې بشپړ غړي گڼل کیږي، چې فعلاً د دغو هېوادونو شمېر ۱۲۰ ته رسیږي، چې پر دوی باندې اساسنامه مطلقاً د تطبیق وړ گڼل کیږي.

**دویم:** هغه هېوادونه دي چې تر اوسه یې دا اساسنامه نه لاسلیک کړې او نه یې تصویب کړې ده. دا هېوادونه د اساسنامې په متعلق په مطلق ډول هېڅ مسوولیت نه لري او د اساسنامې احکام پر دوی باندې د تطبیق وړ نه دي. یوازې په یو صورت کې د دې اساسنامې احکام پر دوی باندې د تطبیق وړ گڼل کیږي، چې دوی په خپله خوښه د یوې مشخصې قضیې په برخه کې د اساسنامې احکامو د تطبیق غوښتنه وکړي، نو بیا یوازې په هماغه مشخصه قضیه کې د اساسنامې احکام پر دوی باندې د تطبیق وړ گڼل کیږي او دغه هېوادونه په هماغه مشخصه قضیه کې د اساسنامې احکامو منلو ته مجبوریږي.

دریېم: بین البیني هېوادونه دي، یعنې دا هغه هېوادونه دي چې اساسنامه یې صرفاً لاسلیک کړې ده، ولې تصویب کړې یې نه ده. دا هېوادونه د پرنسیب له لحاظه د اساسنامې په مقابل کې کوم مکلفیت نه لري، ولې سره د دې هم د دې لپاره چې د اساسنامې د تصویب لپاره یې یو پړاو تکمیل کړی دی، نو د دې لپاره چې فعلاً د دوی موقف روښانه نه دی، نو که غړیتوب ترلاسه کړي او که نه، د موقف د روښانه کېدو تر وخته مکلف دي چې د اساسنامې د عمومي پرنسیبونو یا روحیې مخالفې کړنې او اعمال تر سره نه کړي. البته کله چې د دغو هېوادونو موقف روښانه شي، نو له دوه حالته به خالي نه وي.

یا دا چې دوی به له غړیتوب نه صرف نظر وکړي یعنې اساسنامه به په خپلو پارلمانونو کې تصویب نه کړي، نو په دې حالت کې بیا له دې قید نه په اینده کې خلاصیږي او د غیر غړو هېوادونو په قطار کې راځي.

یا دا چې دوی به دا اساسنامه تصویب کړي، نو په دې حالت کې دوی بیا غړي گڼل کیږي او د اساسنامې احکام او قواعدوورباندې مکملاً تطبیق کیږي.

د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه په پارلمان کې نه ده تصویب کړې؛ بلکې یوازې یې لاسلیک کړې ده. ولې تېر کال له خپل لاسلیک هم تیر شول او فعلاً د نړیوالې جنایي محکمې غړی هېواد نه گڼل کیږي؛ نو ځکه پرې د دغې محکمې هېڅ ډول حکم د تطبیق وړ نه دی. د یادولو وړ ده چې امریکا هغه هېواد دی چې د نړیوالې جنایي محکمې د جوړېدو پر مهال یې مخالفه رایه ورکړې وه او دلیل یې دا و چې دا زموږ له ملي حاکمیت سره په ټکر کې ده. دا سمه ده چې د نړیوالې جنایي محکمې احکام په دغه هېواد نه تطبیق کیږي، ولې که چیرې دوی د نړیوالې جنایي محکمې په یو غړي هېواد کې د دې محکمې د صلاحیت لاندې جرایم تر سره کړي، نو بیا په دوو حالاتو کې محکمه کولای شي چې دغو جرمونو ته رسیده گي وکړي. اول ـ کله چې غړی هېواد محکمې ته شکایت وکړي او دویم دا چې د محکمې څارنوال قضیه محکمې ته ارجاع کړي. دا چې افغانستان د محکمې مکمل غړی هېواد دی او تر اوسه یې د امریکایي پوځیانو له جنگي جنایتونو محکمې ته شکایت نه دی کړی؛ خو په دې وروستیو کې د محکمې څارنوالې فاتو بېنسودا غوښتنه کړې ده چې د امریکایي پوځیانو جنگي جنایت دې په افغانستان کې وڅېړل شي چې متأسفانه د محکمې لخوا دا موضوع نه ده تعقیب شوې، د نه تعقیب دلایل یې ډېر زیات دي؛ خو دلته د هارورد د حقوقو مکتب د پروفیسور (Alex Whiting) دلایل رانقلوو چې نوموړی دغه دلایل وړاندې کوي:

**د امریکایانو سیاسي نفوذ او پر نړیوالې جنایي محکمې یې اغیزې**

پر افغان دولت فشار واردول تر څو له نړیوالې جنایي محکمې سره په دغو څېړنو کې همکاري ونه کړي او له دغو څېړنو سره مخالفت وکړي.

د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ لخوا گواښ چې که چېرې دغو څېړنو ته ادامه ورکړي، نو خپل مالي امکانات به پر دې محکمه ودروي.

د امریکایي حکومت له خوا گواښ که چیرې دغو څېړنو ته ادامه ورکړي، نو د محکمې پر قاضیانو به بندیزونه ولگوي او امریکا ته د راتگ ویزې به ورنه کړي.

**د پای خبره**

د جنگي جنایتونو له څېړلو سره د سپینې ماڼۍ له جدي مخالفت څخه خو دا ښکاري چې امریکایي پوځیانو په افغانستان کې په پراخه کچه جنگي جنایتونه کړي دي او دغه هېواد له دې وېره لري چې که چیرې دا جنایتونه وڅېړل شي، نو امریکا به ورسره بدنامه او پوځیان به یې د محاکمې میز ته کش کړی شي. له همدې امله په خپل ټول توان په دې محکمه فشار واردوي چې یادې څېړنې ترسره نه شي او تر اوسه پورې دا کار بریالی دی.

خو آزادې نړۍ ته دا پکار ده چې د افغانستان د خلکو غږ واوري او د دغو جنایتونو د څېړلو په خاطر د عدالت د نړیوالې محکمې حوصله افزایي او ملاتړ وکړي. هغه هم په داسې حالاتو کې چې په ظاهره افغان جگړه مخ په ختمېدو ده او شاید امریکایي پوځیان له طالبانو سره تر موافقې وروسته، په بشپړه توگه له افغانستان څخه ووځي. د انصاف تقاضا خو همدا ده چې امریکایان دې له افغانستان څخه تر دمخه، دلته د تویو شویو وینو او شویو جنگي جنایاتو حساب نړیوالو ته ورکړي.

# په ننگرهار کې د ویزو اخیستلو پر مهال یوه سپین ږیري خپل ژوند له لاسه ورکړی دی

په جلال اباد ښار کې د پاکستان کونسلگرۍ مخې ته د زیاتې گڼې گوڼې له امله یوه سپین ږیري ویزه اخیستونکي خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

ویزه اخیستونکي وایي، د پاکستان ویزې اخیستل ستونزمن شوي او خلک د یوې ویزې اخیستلو لپاره په میاشتو انتظار باسي.

دوی ادعا کوي چې ځینې پولیس او کمېشنکاران له خلکو د ویزې اخیستلو په بدل کې پیسې اخلي او زیاته گڼه گوڼه یې جوړه کړې ده.

د یادې کونسلگرۍ مخ ته د زیاتې گڼې گوڼې له امله غرمه مهال د محمد رفیق په نوم یوه سپین ږیري خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

ویزه اخیستونکي وایي، په میاشتو میاشتو انتظار باسي، خو بیا هم پر دې نه بریالي کیږي چې ویزه تر لاسه کړي.

دوی ادعا کوي چې دلته ځینې کمیشنکاران د پولیسو په ملتیا له خلکو پیسې اخلي او ویزې ورکوي.

دوی وایي: «د دغه ځای ټول پولیس او چارواکي له خلکو پیسې اخلي او د پیسو په بدل کې خلکو ته ویزې ورکوي».

د ننگرهار د والي ویاند عطاالله خوگیانی مني چې د زیاتې گڼې گوڼې او گرمۍ له امله یوه سپین ږیري خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

هغه وایي، دلته فساد شته او ځینې کسان یې د کمېشنکارۍ په تور هم نیولي دي.

نوموړي ویلي: «نن غرمه یو سپین ږیری چې د پاکستان کونسلگرۍ ته د ویزې اخیستو لپاره راغلی و، د زیات حجم او گرمۍ له کبله بې هوشه شوی او وروسته یې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی».

دا په داسې حال کې ده چې تېر کال هم په جلال اباد ښار کې د پاکستان کونسلگرۍ مخې ته یو کس د زیاتې گڼې گوڼې له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ.

# شنونکي: د ډیورنډ په تړاو تصمیم یوازې د دواړو خواوو ولسونه نیولی شي




د لاهور په غونډه کې د ډیورنډ فرضي کرښې په اړه د ځینو کسانو څرګندونو په کور دننه توند غبرګونونه پارولي دي. د پاکستان په لاهور کې پاکستاني حکومت د افغان سولې په اړه د افغان سیاستوالو او ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو یوه غونډه جوړه کړې وه. په دې غونډه کې ځینو کسانو د ډیورنډ فرضي کرښې په اړه څرګندونې کړې، چې په کور دننه یې د سیاسي فعالینو او ولسي جرګې د غړو غبرګونونه له ځان سره راپارولي دي.

د ملي شورا غړي په پاکستان کې د افغان سولې کنفرانس ته د ډیورنډ په تړاو د لطیف پدرام پر څرګندونو غبرګون ښیي او وایي چې دغه مسئله د یوه پلاوي له سطحې لوړه ده او په اړه یې تصمیم نیول یوازې د دواړو خواوو ولسونو کار دی.

په پاکستان کې د افغان سولې په غونډه کې د ډیورنډ کرښې په تړاو د لطیف پدرام او د جمعیت ګوند اجرایه رییس څرګندونې کړې وې. نوموړي د پاکستان په غونډه کې ویلي چې ډیورنډ کرښه دې نوره د پاکستان او افغانستان ترمنځ د رسمي سرحد په توګه اعلان شي، خو په کور دننه دغه خبرې د نوموړي تر صلاحیت لوړې بلل شوې دي او د ملي شورا غړي وایي چې دا د یوه فرد خبره نه ده او افراد په دې اړه نظر نه شي څرګندولی.

د دوی په خبره، د ډیورنډ فرضي کرښې په تړاو تصامیم یوازې د دواړو خواوو د ولسونو کار دی او په دې تړاو څرګندونې د پلاوي له سطحې او صلاحیت لوړې دي. د وکیلانو په وینا، پر دغه مسئله بحث کول د هغو کسانو حق دی، چې د فرضي کرښې دواړو غاړو ته یې ځمکې دي او سیمې یې په دوو برخو وېشل شوې دي. دوی وایي، څو کسیز پلاوي او سیاستوال په دې تړاو د خبرو او څرګندونو حق نه لري.

وکیلان ټینګار کوي چې ولس به په دې اړه پرېکړه کوي او څو سیاسي کسان او یا د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان به دغه ستونزه نه حل کوي. د ولسي جرګې غړي وایي چې ډیورنډ فرضي کرښه ورته د منلو وړ نه ده او دا مسئله د ملت حق دی او دوی د ملت استازي دي.


شنونکي د ډیورنډ کرښې په تړاو د پاکستاني چارواکو د څرګندونو او اغزن سیم د غځولو په تړاو د افغان حکومت پر سکوت هم نیوکې کوي.

د پاکستان په غونډه کې د جمعیت ګوند د رهبرۍ شورا غړي هم وړاندیز کړی و، چې د ستونزې د حل لپاره دې د ډیورنډ کرښې په تړاو ټولپوښتنه وشي، خو د دې ناستې بل ګډونوال حنیف اتمر وویل، چې افغانستان او پاکستان د دې معضلې با وجود سولې ته رسیدلی شي.

د چارو شنونکي وایي، چې د بین الافغاني خبرو اترو لپاره د پلاوي په ترکیب کې باید هغه کسان نه وي، چې د افغانستان ملي ګټې په نظر کې نه نیسي. بل پلو د افغانستان د ملي پیوستون نهضت رییس سید اسحاق ګیلاني وایي، چې د سولې په نامه پلاوو کې د دغه ډول ملي ګټو ضد اشخاصو ځای پر ځای کول د هېواد په زیان دي. نوموړي ویلي: ((دا سمه ده چې دوی د ملي ګټو ضد خبرې کړې دي؛ خو باید دغه ډول غونډو ته هغه کسان و نه لېږل شي چې ملي ګټو ته ژمن نه دي او یا د ملي ګټو ضد څرګندونې کوي)).

د ډیورنډ کرښې په تړاو د پاکستان په غونډه کې د ځینو افغان سیاستوالو پر څرګندونو نیوکې داسې مهال دي، چې څه موده وړاندې د امریکا د کانګریس یوه غړي هم وړاندیز کړی و، چې د وسله والو له ملاتړ څخه د پاکستان لاس اخیستلو لپاره دې ډیورنډ رسمي سرحد شي.

## نن نوي کسان د ولسي جرګې د ریاست لپاره سیالي کوي



ولسي جرګه تر اوږدو ناندریو او کشمکشونو وروسته بریالۍ شوه، چې د ریاست پر سر رامنځ ته شوی بن بست تر یوې کچې ختم کړي. ولسي جرګې پرون وکړی شول چې د یوې جنجالي رایې پر سر، سري رایه اچونه وکړي او په دې توګه رامنځ ته شوی جنجال ختم کړي. دغه جرګه به نن د خپل نوي موقت رییس او اداري هیئت تر مشرۍ لاندې د نوي رییس لپاره د رایې صندقونونه ایږدي.

له شاوخوا ۳۵ ورځو راهیسې په ولسي جرګه کې وکیلانو د ریاست پر سر ستونزه لرله. په ولسي جرګه کې د یوې رایې او نصاب پر سر جنجال تر دې حده ورسید، چې اونۍ، اونۍ یې دوام وکړ او د خلکو توند غبرګون یې له ځان سره درلود. خلکو اعتراضونه وکړل او په ټولنیزو رسنیو کې د ولسي جرګې کشمکش په کلکو ټکو غندل کېده.

وړمه ورځ د ولسي جرګې معترضو نوماندانو بیا خبرداری ورکړی و، چې که د ولسي جرګې غړي د خپلې ستونزې پر حل بریالي نه شي، نو دوی به موازي پارلمان اعلان کړي.

بلخوا ولسي جرګې تېره ورځ پرېکړه کړې چې نن به د دوو نوو نوماندانو ترمنځ د ولسي جرګې د ریاست لپاره سیالي کېږي. په تېرو ټاکنو کې میر رحمن رحماني او کمال ناصر اصولي ترمنځ سیالي په ناندرۍ بدله شوه، چې په ولسي جرګه کې یې پراخې ستونزې وزیږولې. داسې تورونه پورې کېدل چې په ولسي جرګه کې د یوې جنجالي رایې پر سر فساد رامنځ ته شو او پیسې وویشل شوې. د ولسي جرګې غړي عبدالقادر قلاتوال دوه ورځې وړاندې له مسیر ورځپاڼې سره په خبرو کې د فساد موجودیت او پیسو د ویش تورونه رد نه کړل. خو بالاخره تېره ورځ د یوې جنجالي رایې پر سر رایه اچونه وشوه. پرون ټولې ۲۲۹ رایې وکارول شوې، ۹۰ تایید، ۳ سپینې، ۱٦ باطلې او ۱۲۰ رد رایې د دې سبب شوې، چې جنجالي رایه باطله شي او میر رحمان رحماني د ولسي جرګې رییس نه شي. په دې توګه به نن د دوو نوو نوماندانو ترمنځ ټاکنې کېږي او دوی به د ولسي جرګې ریاست لپاره سیالي کوي.

د ولسي جرګې د دارالانشا رییس عبدالقادر ځاځی وایي، چې نن سه شنبه به د نوي ریاست لپاره د نوو نوماندانو ترمنځ سیالۍ کېږي او ملک قیس نوراغا به د موقت رییس دنده پر مخ وړي. تمه کېږي چې نن دغه ستونزه حل شي او ولسي جرګه خپل فعالیتونه پیل کړي.

## ټاکنو کمېسیون: په ولسمشریزو ټاکنو کې هم له بایومېټریک سیستم څخه ګټه اخیستل کېږي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ولسمشریزو ټاکنو کې د رایې ورکوونکو د ثبت په موخه، ۲۵زره نور بایومېټریک ماشینونه پېرلي او د ټاکنو د پایلو د ژر اعلانېدو لپاره د رایې ورکونې په مرکزونو کې انټرنېټ هم فعالوي.

دا په داسې حال کې ده چې یاد کمېسیون د روان کال د غویي په ۲۵مه ویلي وو، چې په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې چې د روان کال د تلې په شپږمه تر سره کېږي، له بایومېټریک سیستمه استفاده نه کېږي.


کمېسیون ویلي وو، دغه پرېکړه یې د وخت او امکاناتو د کموالي او بایومېټریک ټکنالوژۍ د نه عملي کېدو له امله کړې ده، خو د یاد کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح الله سادات پژواک خبري اژانس ته ویلي، پرېکړه شوې چې په ولسمشریزو ټاکنو کې د روڼوالي د تامین لپاره د رایې ورکوونکو د ثبت په برخه کې له بایومېټریک سیستم څخه استفاده وشي.

د هغه په خبره، د بایومېټریک ۲۱زره ماشینونه د ولسي جرګې له تېرو ټاکنو پاتې دي او ټاکل شوې چې د ولسمشریزو ټاکنو د اړتیا پوره کېدو لپاره ۲۵زره نور هم وپېرل شي.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، په ټول هېواد کې د ولسمشریزو ټاکنو د تر سره کېدو په موخه د رایې ورکونې ۳۵۰۰۰ محلونه په پام کې نیول شوي، نو ځکه ۱۱زره اضافي ماشینونه پېرل کېږي چې د اړتیا پر مهال به ترې ګټه واخیستل شي.

که څه هم نوموړي د یادو ماشینونو دقیق لګښت نه دی په ډاګه کړی، خو په خبره یې، دغه ماشینونه د کمېسیون له خوا د حکومت پر بودجه پېرل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ولسي جرګې د تېرو ټاکنو پر مهال د رایې ورکونې په ډېرى مرکزونو کې بایومېټریک ماشینونو تخنیکي ستونزې درلودې او استفاده ترې



ونه شوه.

سادات د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي: «په رښتیا چې مخکې موږ دغه ستونزه لرله، خو دا ځل موږ پوره وخت لرو او ټول بایومېټریک ماشینونه امتحانوو او له هېوادوالو سره ژمنه کوو چې دغه ډول بدې پېښې به نه رامنځته کېږي».

نوموړي ټینګار کړی چې په یادو ماشینونو کې د تخنیکي ستونزو د مخنیوي لپاره یې یو پلاوی ګومارلی چې د ماشینونو د پېرلو لپاره دوبۍ ته لاړ او د المان له درملو کمپنۍ سره یې چې یاد ماشینونه یې جوړ کړي، تخنیکي خبرې کړې دي.

# پامپیو: متحده ایالتونه د ایران پر ضد د نړیوال ائتلاف د جوړولو هڅه کوي



د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د ایران پر وړاندې د نړیوال ائتلاف د جوړولو هڅې بیا پیل کړې دي.

پامپیو ویلي، دغه ائتلاف په نړۍ کې د تروریزم د تر ټولو لوی تمویلوونکي (ایران) پر وړاندې جوړوي.

هغه دغه خبرې مخکې له دې چې سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو ته سفر وکړي، خبریالانو ته کړې دي.

هغه ویلي: «زه په سفر روان یم، اول به سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو ته ځم، د ایران د ننګونو پر وړاندې زموږ دوه ښه متحدان، موږ به ورسره خبرې کوو چې څنګه په ستراتېژیکه توګه متحد و اوسو او څنګه نړیوال ائتلاف جوړولای شو، ائتلاف نه یوازې په خلیج هېوادونو، بلکې اسیا او اروپا کې چې په له ورسره مخ ننګونو باندې پوه شي او د نړۍ د تروریزم د تر ټولو لوی تمویلوونکي سره مخ شي».

د امریکا او ایران ترمنځ کړکېچ په دې وروستیو کې له دې کبله یو ځل بیا اوج ته رسېدلی، چې ایران په هورمز تنګي کې د امریکا یوه بې پیلوټه الوتکه وویشتله.

ایران هغه مهال ادعا وکړه چې دغه الوتکه د دوی هوایي حریم ته ورننوتې وه، نو ځکه یې نسکوره کړه.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ایران تر دې کار وروسته چمتو و، چې پر دغه هېواد برید وکړي، خو له دې چې په خبره یې نه یې غوښتل د یوې بې پیلوټه الوتکې په غچ کې ډېر ایرانیان ومري، له خپلې پرېکړې تېر شو.

خو ټرمپ ټینګار وکړ چې پر ایران به سخت اقتصادي بندیزونه ولګوي. هغه زیاته کړه چې دغه بندیزونه به دومره زیات وي، چې هېڅ یې په اړه فکر نه کېږي.

امریکا د ایران پر تېلو، اوسپنې، فولادو، ځینو هوایي شرکتونو، سوداګرۍ، بانکي سکټور او ځینو نورو سوداګریزو سکټورونو سخت بندیزونه لګولي، چې له امله یې د ایران اقتصاد له رکود سره مخ دی.

د امریکا د بندیزونو دا لړۍ وروسته له هغه پیل شوه، چې تېر کال ولسمشر ټرمپ له ایران سره د نړۍ د پیاوړو هېوادونو له اټومي هوکړې ووت.

تر اقتصادي بندیزونو ور هاخوا امریکایي رسنیو ویلي چې امریکا د خپلې ډرون الوتکې د نسکورېدو په غبرګون کې د جون په شلمه، پر ایران باندې سایبري بریدونه هم پیل کړي دي.

واشنګټن پوسټ امریکایي ورځپاڼې ویلي، چې دغو بریدونو د ایران د راکټونو کنټرولوونکي کمپیوټرونه له خنډ سره مخ کړي دي.

خو ایران بیا ویلي چې د امریکا سایبري حمله ناکامه وه. د دغه هېواد د اطلاعاتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیر محمد جواد ازري جهرومي په خپله ټوېټرپاڼه لیکلي، چې امریکایانو کلکه هڅه وکړه، خو د ده په خبره، کامیابه حمله یې ونه کړه. هغه زیاته کړې چې ایران له ډېره وخته له سایبري حملو سره مخ دی.

## د کتـــاب خبـــرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میـر احمد یـاد

### دیارلسم څپرکی
### څنګه د رهبر په څېر فکر وکړو؟




خو خبره همدا ده: که د خلکو په خوښه کار کوئ، نو مسایلو ته به د هغوی له نظره ګورئ. د نورو خلکو په نظر چې پوه شوئ، بیا پر هغوی د نفوذ لارې چارې هم پیدا کولای شئ. زما یو ملګری تکړه پلورونکی دی، ماته یې ویل چې له توکو اخیستو مخکې یوه شېبه پر دې فکر کوي چې د پېرودونکو غبرګون به یې په اړه څه وي؟ ملګري مې ویل: له مخاطبینو سره غبرګون د ویناوال وینا ښایسته، جذابه او اغېزناکه کوي. له مامورینو سره د مدیر خبرې اترې او د نظریاتو تبادله احکام اغېزناکوي او بیا ښه منل کېږي.

د یوې مغازې د پور د څانګې رئیس خپله کیسه کوي چې دې کار ورسره څه مرسته کړې ده:

(زه چې د دې مغازې د پورونو د څانګې معاون شوم، نو زه یې د مکاتبه یې پورونو او پیسو را ټولولو مسئول هم کړم. په لیکونو کې چې له پیرودونکو سره کومه لهجه کارول شوې وه، زما زړه یې خپه کړ. دا ټول لیکونه ترخه او ګواښوونکې وو. ما چې لوستل داسې مې ګڼل چې: (که ماته څوک داسې لیک ولیکي، نو له ډېرې غوسې به یې پیسې هم نه ورکوم.) له همدې ځایه مې پیل وکړ او د داسې لیکونو تمرین مې پیل کړ چې که ماته راشي او پیسې رانه پکې وغوښتل شي، نو ما خپلو پیسو ورکولو ته هڅوي. دې تمرین کار ته ګټه وکړه. ما ځان د هغو پیرودونکو په ځای وګاڼه، چې د پور قسطونه ځنډوي، په دې توګه مې راټولې کړې پیسې تر ټاکلي حده لوړې کړې.)

زیاتره کاندیدان له دې امله ماتېږي چې ځان د خپلو رایه ورکوونکو پر ځای نشي لیدلای. یوه کاندید یوه سیاسي بست ته مبارزه کوله. له خپل سیال سره په ټولو شرایطو برابر و، خو یوازې له دې امله مات شو چې خبرې یې سختې وې او داسې اصطلاحات یې کارول چې لږ خلک پرې پوهېدل. سیال یې بیا د ده اپوټه هر ځای کې د خپلو رایه ورکوونکو او عام ولس په ژبه غږېده. له بزګرو سره به د هغوی په ژبه لګیا وو. مزدورانو سره به د مزدورانو په ژبه لګیا و، په ټلویزیون کې به یې چې مرکه کوله، خپل رایه ورکوونکې به یې عادي ولسي وګړي ګڼل او د پوهنتون د استاد په څېر خبرې به یې ورته نه کولې.

تل له ځانه پوښتنه کوئ چې: (که زه د بل چا پر ځای وی، دې حالت کې مې څه کول؟ دې موضوع ته مې څه غبرګون ښود؟ څه فکر مې کاوه؟) دا پوښتنې درته د لا ډېر برې لارې هواروي. په کومو خلکو چې موږ اغېز غواړو، د هغوی علاقو او ذوقونو ته پام کول، د زیاتره مناسبتونو د ښه کولو لپاره ښه ګام دی. کلونه وړاندې د برېښنا یوه شرکت داسې یو فیوز جوړ کړ، چې په هېڅ حالت کې یې ډز نه کاوه. پر دې فیوز یې یونیم ډالر قېمت کېښود او بیا یې د اعلان لپاره له یوه تبلیغاتي شرکت سره تړون وکړ.

کوم مسئول چې له تبلیغاتو کار اخیسته، دې ځانګړنې ته یې سخت هیجاني و. ویل یې چې د ټول هېواد په ټلویزیونونو، راډیوګانو او ورځپاڼو کې به ورته اعلانونه کوي. ویې ویل: (زموږ کاروبار پراخېږي، په لومړي کال به لس میلیونه فیوزونه وپلورو.) مشاورینو یې هڅه کوله چې دی پر دې قانع کړي چې فیوز مصرفي توکی نه دی، دومره ښایسته او تخییلي جوړښت هم نه لري او خلک یې د اخیستو پر وخت یوازې په ارزانه بیې فکر کوي، ورته وویل چې: (د فیوز اعلانات یوازې د لوړ عاید لرونکې طبقې ته ځانګړي کړئ.)

خو دا ټول نظریات رد شول او بلاخره پراخه تبلیغاتي کمپاین شپږ اونۍ وروسته د نهیلي کوونکو پایلو له امله بند شو. ستونزه دا وه: چې مدیر دې ګرانو فیوزونو ته له خپلې زاویې کتل، د بازار د لوړ عاید طبقې له نظره یې ورته نه کتل. که یې ځان د هغوی پر ځای ګڼلی وی، نو د دې تبلیغاتو مخاطبین به یې د لوړې طبقې خلک وی او خپل پیرودونکی (د فیوز تولیدي شرکت) به یې له ماتې ژغورلای وی.

پر کومو خلکو چې تاسې اغېز غواړئ، له هغوی سره د خپلو نظریاتو د تبادلې وړتیا زیاته کړئ.لاندې بېلګې به درسره ډېره مرسته وکړي:

د نظر د تبادلې تمرین

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | کار کې خلکو ته امر | کار او حالاتو ته د هغو خلکو له نظره وګورئ چې کار کې نوي وي، بیا له ځانه پوښتنه وکړئ چې خپله خبره مې په سم ډول ور رسولې ده که نه؟ |
| ۲ | سوداګریز اعلان جوړول | که زه یې مصرفوونکی وی، نو دې اعلان ته به مې څه غبرګون ښودلای. |
| ۳ | ټلیفوني خبرې | که زه د بل پر ځای وی، د خپل غږ او خبرو د ښې په اړه به مې څه فکر کاوه؟ |
| ٤ | ډالۍ | دا ډالۍ یوازې زما خوښېږي، که د هغې به هم خوښه شي؟ (ځکه ذوقونه توپیر کوي.) |
| ۵ | د حکم ښه | زه چې په ځان څنګه حکم غواړم، نورو ته همداسې حکم کوم؟ |
| ٦ | ماشوم روزنه | که زه د دې ماشوم پر ځای وی، دې روزنې ته به مې څه غبرګون ښوده؟ |
| ۷ | ظاهري حالت | که تر ما لوړ کسان داسې جامې واغوندي، زه به یې په اړه څه فکر کوم؟ |
| ۸ | وینا | که زه د اورېدونکو پر ځای وی، له دې وینا به مې څه اخذ کاوه؟ او څه غبرګون به مې ښوده؟ د هغوی غوښتنو او علاقو ته په کتو به دا وینا څنګه ارزوم؟ |

**دوام لري....**

# محمد مُرسي

زمریالی اباسین



محمد مُرسي د ۱۹۵۱ ز کال د اګسټ په ۲۰مه د مصر په شرقیه سیمه کې دنیا ته راغلی. ځینې وایي چې مُرسي په سختۍ ښوونځی پای ته ورساوه او لرې ځای ته د زده کړو لپاره تلو راتلو. د ښوونځي له بشپړولو وروسته یې په ۱۹۷۵ ز کال کې د قاهرې په پوهنتون کې د انجنیرۍ پوهنځی پای ته ورساوه. په همدغه پوهنتون کې یې لوړو زده کړو ته دوام ورکړ او په ۱۹۷۸ ز کال یې په میټالورجي (د فلزاتو استخراج او ذوب) انجنیري کې د ماسټرۍ سند هم ترلاسه کړ. امریکا ته ولاړ او په ۱۹۸۲ ز کال یې د سویلي کالفورنیا په پوهنتون کې د انجنیرۍ دوکتورا وکړه. په ۱۹۸۰ ز کلونو کې دې دوکتورا له اخیستلو وروسته یې په نارتریج، د کالیفورنیا ایالتي پوهنتون کې د استاد په توګه دنده پیل کړه.

په ۱۹۸۵ ز کال بېرته مصر ته راوګرځېد او د شرقیه په زګازیګ پوهنتون کې استاد شو. هغه په دغه پوهنتون کې د انجنیري پوهنځي رییس و او ویل کیږي چې تر ۲۰۱۰ ز کاله یې همدلته خپلې استادۍ ته له یو څو وقفو وروسته دوام ورکړی و.

مُرسي سني مسلمان او د اخوان المسلمین غړی و. مېرمن یې نجلا علي محمود نومیږي. پنځه بچیان لري: احمد، اسامه، عمر، شیما او عبدالله. دوه مشر اولادونه یې د امریکا تابعیت لري او په لاس انجلس کې دنیا ته راغلي دي.

مرسي له ۲۰۰۰ تر ۲۰۰۵ ز کال پورې د اخوان المسلمین بلاک د یو غړي په توګه د مصر د پارلمان غړی و او په ۲۰۰۵ ز کال کې بیا ځلې پارلمان ته بریالی نشو. په ۲۰۰٦ ز کال کې زنداني شو او اووه میاشتې یې د سیاسي بندي په توګه زندان تېر کړ.

محمد مُرسي په ۲۰۱۱ ز کال کې د اخوان المسلمین د ازادۍ او عدالت ګوند رهبر وټاکل شو او د ۲۰۱۲ ز کال په اپرېل کې د پخواني واکمن حسن مبارک پر ضد د انقلاب په پایله کې د خیرت الشاطر د یو پیاوړي سیال په توګه د خپل ګوند په استازیتوب ولسمشریزو ټاکنو ته ودرېد. د ټاکنو لومړي پړاو کې مُرسي او د وخت لومړی وزیر احمد شفیق دوه مخکښ نوماندان وو او په دې توګه ټاکنې دویم پړاو ته لاړې. د همدې کال د جون په ۱۴مه د مصر پوځي رژیم د دغه هېواد پارلمان چې مسلمانانو پرې بشپړ حاکمیت درلود، منحل اعلام کړ. د جنجالي شویو ټاکنو دویم پړاو د جون په ۱٦-۱۷مه تر سره شو او د جون په ۲۴مه د مصر د ټاکنو ملي کمېسیون لخوا محمد مُرسي د ۵۱ اعشاریه ۷ ټاکنو په تر لاسه کولو سره د دغه هېواد ولسمشر اعلان شو.

مُرسي د دې لپاره چې ځان یې د مصر د ټولو خلکو استازی ښودلی وي، د ولسمشرۍ له تر لاسه کولو سره سم د اخوان المسلمین د ازادۍ او عدالت له ګوند څخه خپله استعفا اعلان کړه. د جون په دېرشمه یې په ډیموکراټیکه توګه د مصر د لومړي منتخب ولسمشر په توګه د لوړې مراسم پر ځای کړل. د جولای په اتمه یې د پوځ د حکم خلاف د هېواد د پارلمان د بېرته پرانیستو حکم صادر کړ او وکیلان یې بېرته پارلمان ته وروبلل. د همدې میاشتې په لسمه پارلمان تر منحل کېدو وروسته خپله لومړۍ ناسته وکړه او په هغې کې یې په عادي ډول د پارلماني چارو د بېرته عادي کېدو غوښتنه وکړه، خو د مصر د اساسي قانون ستري محکمې یې دغه غوښتنه رد کړه او پارلمان یې باطل اعلان کړ. محمد مرسي د ۲۰۱۲ ز کال د اګسټ په دوولسمه فیلډمارشال محمد حسین طنطاوي او د پوځ لوی درستیز ډګرجنرال سمیع عنان او ځینې نور لوړپوړي پوځي قوماندانان تقاعد ته سوق او پر کور یې کېنول. له دې دوو ورځو وروسته یې نوي پوځي قوماندانان پر دندو وګومارل، چې دغه کار یې وروسته په جنجال ورته بدل شو.

د ۲۰۱۲ ز کال د اګسټ په دېرشمه تهران ته ولاړ او هلته یې د عدم تعهد جنبش په سرمشریزه کې برخه واخیسته، چې په ایران کې د ۱۹۷۹ ز کال تر انقلاب وروسته دا دغه هېواد ته د یو مصري رهبر لومړی سفر و. مُرسي دغې ناستې ته د وینا پر مهال د بشارالاسد حکومت یو ځپوونکی رژیم وباله، چې په وینا یې خپل مشروعیت یې له لاسه ورکړی.

هغه د ۲۰۱۲ ز کال د نومبر په ۲۱مه د اسراییلو او فلسطینیانو ترمنځ د خونړیو نښتو په پایله کې چې پکې شپږو اسراییلیانو او ۱٦۳ فلسطینیانو ژوند له لاسه ورکړی و، د اوربند په رامنځته کولو کې کلیدي رول تر سره کړ.

د ۲۰۱۲ ز کال د ډسمبر په نهمه یې د ولسمشرۍ پر پرېکړو قضایي څار ته قانوني بڼه ورکړه. د همدې کال د ډسمبر په ۱۵مه یې د نوي اساسي قانون مسوده چمتو او ټولپوښتنې ته وړاندې کړه. له څو ورځنیو رایي اچونې وروسته، خلکو د ډسمبر په ۲۵مه د شریعت پر اصولو ولاړ اساسي قانون ته مثبته رایه ورکړه او مُرسي هم سمدستي توشیح کړ. دغه کار بلوا ته زمینه برابره کړه چې خونړۍ پایلې یې درلودې. د ولسمشر سیمې ته څېرمه لاریونونو کې اخ ډب وشو او د تاوتریخوالي په پایله کې ځینو لاریونوالو ته مرګ ژوبله واوښته.

مُرسي لا د اصلاحاتو پر بهیر او خپلو نویو پروګرامونو کار کاوه چې د ۲۰۱۳ ز کال د جون په دېرشمه، د ولسمشر په توګه د مُرسي د ولسمشرۍ لومړۍ کلیزې سره هممهاله، په تحریر څلورلارې او د هېواد په ځینو نورو سیمو کې اعتراضونه پیل شول او د ولسمشر د عزل او شړلو ناري پورته شوې. وضعیت په نابېره توګه له کنټروله د وتلو په حال کې و. په قاهره کې د امریکا سفارت دروازه وتړل شوه. د پخواني ولسمشر بارک اوباما ادارې پر مُرسي فشارونه وارد کړل، څو له وخته مخکې ټاکنو ته لار هواره کړي. مُرسي چې ځان یې پر حقه باله، له دغو غوښتنو سره مخالفت وښود او دا اعتراضونه یې د مصر خلاف یوه خونړۍ دسیسه وبلله.

د لاریون او بلوا په دویمه ورځ د مصر پوځ د مُرسي ملکي حکومت ته اخطار ورکړ، چې په ۴۸ ساعتونو کې واک پرېږدي او په وینا یې د خلکو غوښتنې عملي کړي، که نه؛ نو دوی به لاس په کار شي. خو د مُرسي حکومت دغه ګوتځنډنه د کودتا په مانا ونه بلله او ګومان یې کاوه چې وضعیت به کنټرول کړي.

پوځ د ۲۰۱۳ ز کال د جون په دریېمه خپل اخطار عملي کړ، خو د مُرسي د توقع خلاف د یوې کودتا په تر سره کولو سره. کودتا سمدستي کامیابه شوه او مُرسي یې له واکه لرې کړ.

د ۲۰۱۳ ز کال د جولای په څوارلسمه محکمې د مُرسي ضد شکایتونو څېړنه پیل کړه، چې په هغو کې په قاهره کې د لاریونوالو پر وژنو او ځورونې سربېره، د جاسوسۍ موارد هم شامل وو.

د همدې کال د سپټمبر په لومړۍ، مُرسي او د اخوان المسلمین ۱۴ نور غړي په ډسمبر میاشت په قاهره کې ولسمشرۍ ماڼۍ ته څېرمه د رامنځته شویو پېښو په تړاو بیا محکمې ته وړاندې شول. دا ځل تورونه نور هم سخت شوي وو؛ پر مُرسي او ملګرو یې د وژنو او قتل عام تورونه پورې شوي وو.

د نومبر په څلورمه، د مُرسي محاکمه پیل شوه چې د نامعلومو دلایلو له امله د ۲۰۱۴ ز کال د جنوري اتمې نېټې پورې وځنډول شوه.

د ډسمبر په ۲۱مه، محکمه لا نه وه پیل شوې چې مصري رسنیو پر مُرسي د لا ډېرو جرمي مواردو زیاتولو رپوټونه ورکړل. په دغو مواردو کې په ۲۰۱۱ ز کال کې پر مُرسي او ۱۳۲ نورو کسانو له زندانه د تېښتې ترڅنګ یې پر مُرسي او د اخوان المسلمین پر ۳۵ غړیو له بهرنیو ترهګرو سره د همکارۍ او د کورنیو دفاعي اسرارو افشا کولو تورونه هم ولګول شول. د ۲۰۱۴ ز کال د جنوري په اتمه، بیا محاکمه د ناڅرګندو دلایلو له امله د فبروري لومړۍ نېټې ته وځنډول شوه. که څه هم په دغه وخت کې یې لامل د زندانونو د لېږدولو لپاره د هوا خرابي بلل شوې وه.

له څو ځلي ځنډ او ځنډ وروسته، د ۲۰۱۴ ز کال د فبروري په ۱٦مه، بالاخره مُرسي په داسې حال کې محکمې ته راوستل شو چې په یو سونډپروف (چې غږ ترې بهر نه راوځي) قفس کې بندي و. مدافع وکیلانو د نامعلومو دلایلو له مخې محکمې ته حضور ونه موند او محکمه بیا د فبروري تر ۲۳مې وځنډول شوه.

د مُرسي د محکمې دغه ځنډنی او ځنډنی حالت ډېرو ته د پوښتنې وړ و، چې نابېره د اپرېل په ۲۱مه هغه په شل کاله بند محکوم شو او لامل یې هم د ۲۰۱۲ ز کال د ډسمبر په میاشت کې ولسمشرۍ ماڼۍ ته څېرمه په تاوتریخوالو کې ښکېلتیا وه. که څه هم په دې محکمه کې مُرسي د لاریونوالو د وژنې له تورونو سپین ووت، خو د اپرېل په ۱٦مه د قاهرې یوې محکمې په ۲۰۱۱ ز کال کې له زندانه د تېښتې په قضیه کې د ښکېلتیا په تړاو هغه ته د مرګ سزا واوروله.

د مُرسي له زنداني کېدو کابو دوه کاله تېر شول، خو تورونه نه خلاصېدل او نه یې هم په اړه سپیناوی موجود و. قضیه مبهمه او پېچلې ساتل شوې وه، چې په همدې لړ کې د ۲۰۱۵ ز کال د جون په ۱٦مه د مصر یوې محکمې د مُرسي د اعدام سزا تایید کړه او پردې سربېره یې د جاسوسۍ په تور د عمري بند سزا هم واوروله. تورونو پای نه درلود؛ همدغه ډول د ۲۰۱٦ ز کال په ۱۸مه، مُرسي قطر ته د دولت د اسرارو د افشا کولو په تور په ۲۵ کاله نور بند محکومیږي او پر هغو سربېره د ډېرو نورو کوچنیو تورونو له امله د ۱۵ کاله نور بند سزا هم ورکول کیږي.

د ۲۰۱٦ ز کال د نومبر په ۲۲مه، مصري محکمې د مُرسي او ورسره د نورو اتلسو زندانیانو د عمري بند پرېکړه هم بېرته واخیسته او د بیاکتنې امر یې ورکړ. مُرسي او پر ملګرو یې تور پورې و چې د فلسطین له حماس ډلې او د ایران له سپاه پاسداران او نورو بهرنیو سازمانونو سره لاس لري.

بلخوا د ۲۰۱۸ ز کال د مارچ په ۲۸مه، د مُرسي د کورنۍ او د برېټانیې د پارلماني غړیو تشکیل یو کمېسیون رپوټ ورکوي چې له مُرسي سره په زندان کې وحشیانه، غیرانساني او تحقیروونکی چلند شوی او د مصر او نورو نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې شکنجه شوی دی. په دغه رپوټ کې ویل شوي وو چې د مُرسي وړ درملنه نه کیږي چې ښایي د هغه د ناڅاپي مرګ لامل شي.

د تېرې دوشنبې په ورځ یو دولتي څارنوال رسنیو ته د مُرسي د ډراماټیک مرګ په هکله د خبرو پر مهال وویل، چې ٦۷ کلن مُرسي په داسې حال کې د تورن په ځانګړي قفس کې محکمې ته راوستل شوی و، چې په همدغه قفس کې له پښو وغورځېد او د قاهرې پر وخت د مازدیګر په ۰۴:۵۰ دقیقو یې په روغتون کې سا ورکړه.

د مصر دولتي ټلویزیون وویل، مُرسي په داسې حال کې مړ شو چې د جاسوسۍ قضیې په تور محکمې ته حاضر کړای شوی و.

مُرسي له زنداني کېدو وروسته د شکر او ځیګر او بډوډو له ناجوړۍ کړېده. هغه په زندان کې په سمه توګه نه یوازې چې وړ درملنه یې نه تر لاسه کوله؛ بلکې د شکنجې او ځورونې په اړه یې هم رسمي رپوټونه موجود دي.

همیانی

# درناوی، ستاینه او د امنیت احساس باور رامنځته کوي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

**درناوی!**

که تاسو په بېلابېلو ځایونو او شرایطو کې کار کړی وي، په هغو ځایونو کې چې درته احترام کېدو او په هغو ځایونو کې چې احترام درته نه کېدو، څه حال مو و؟ دا هم ښه درک کولی شی، هغو کسانو چې تاسو ته احترام درلود، ځومره اغېز یې در باندې ښیندلی دی؟

د یوې ښځې کیسه مې لوستې ده، چې کوچني ښار ته یې کډه یوړه. کله چې یو څه وخت په دې کوچني ښار کې و اوسېده، یوه ورځ یې خپل ګاونډي ته د کلي دې درملتون په اړه شکایت وکړ، وې ویل، ډېره زیاته یې په تمه کړم او ښه چلند یې را سره ونه کړ. هغې هیله درلوده چې ګاونډی به یې شکایت تر درملتون واله پورې ور ورسوي.

کله چې له مودې وروسته د دویم ځل لپاره ښځه درملتون ته ولاړه، د درملتون څښتن په خورا خندانه خوله او پوره احترام ښځې ته ښه راغلاست ووایه. وې ویل، خوشاله یم چې بیا دې وینم او زموږ ښار ته راغلې یې. له ځنډ پرته یې د ښځې غوښتنه پوره کړه او هغه څه یې چې غوښتل په پوره درناوي یې د مېز پر سر ورته کېښودل.

زړه ښځه راغله او دا خبره یې له خپل ګاونډي سره شریکه کړه. وې ویل، فکر کوم تا زما د تېر ځل د بدو ورځو په اړه ورته ویلي؟

ګاونډي یې وویل: «په اصل کې ما د درملتون څښتن ته وویل، چې تاسو یې ماته د تېر ځل د چلند په اړه ډېر صفت وکړ، چې څومره ښه سړی دی او په دې کوچني ښار کې یې د خلکو د خدمت لپاره درملتون پرانیستی دی. هغه ته مې وویل، تا راته ویلي چې دا تر ټولو ښه درملتون دی چې تر اوسه مې لیدلی دی».

ګاونډي یې پوهېدو چې خلک مینه غواړي او مینې ته څومره ارزښت ورکوي. دا ریښتیا هم ده چې که خلکو ته مینه ورکړې، هر څه چې وغواړې درته کوي یې او بله دا چې خلکو ته باید دا روښانه کړئ، چې څومره ارزښت درته لري، غوښتنې یې په پام کې نیسی او نظرونه یې درته د قدر وړ دي. کله چې د خلکو خبرو ته غوږ ږدی او غوښتنې یې تر خپلو غوښتنو لوړې بولی، په اصل کې مو هغوی ته احترام کړی دی. په دې ډول سره کولی شی هم د ځان او هم د نورو له بریا سره مرسته وکړی.

**د امنیت احساس!**

د پاملرنې او مینې بله برخه نورو ته د امنیت د احساس ورکول دي. که خلک دې ته اندېښمن وي، چې ستاسو په خوا کې به یې امنیت خوندي وي او که نه، نه شي کولی باور در باندې وکړي. خو کله یې چې د امنیت ډاډ تر لاسه کړ، بیا کولی شي شین څراغ درکړي او له تاسو سره ښه چلند وکړي.

په خلکو کې د امنیت د حس پیدا کول له صداقت څخه سرچینه اخلي، چې په تېر څېرکي کې مو یې په اړه بحث وکړ. خلک هغه وخت ستاسو په څنګ کې د امنیت احساس کوي، چې ستاسو خبرې او عمل سره همغږې وي او د ښو اخلاقو څښتن وی.

د نوتردام د فوټبال ټیم مربي لوهولتز وایي: «کار مو په سم ډول ترسره کړئ. په تر ټولو ښه حالت را ښکاره شئ او له نور سره داسې چلند وکړئ، د څه ډول چلند تمه چې تاسو هم ترې لرئ».

خلک له تاسو د چلند پر مهال درې پوښتنې کوي:

۱- کولی شم باور در باندې وکړم؟
۲- ژمن یاست؟
۳- د یوه انسان په توګه ماته ارزښت راکوې او پاملرنه راته کوې؟

خلک یوازې له تاسو څخه نه، بلکې له چاپېریال څخه هم د امنیت تمه لري. ښه رهبران دا شی درک کوي او داسې چاپېریال رامنځته کوي، چې خلک په کې د ارامۍ ساه واخلي.

تر څو چې خلکو در باندې باور نه وي کړی، نه شی کولی مثبت اغېز پرې وکړی او نفوذ په کې وکړی.

**ستاینه!**

یوه تېروتنه چې ډېری رهبران په ځانګړې توګه ملي سوداګر او د لویو شرکتونو درلودونکي یې کوي، هغه د ستاینې نه کول دي او یوازې هغه کسان په رسمیت پېژني چې د دوی تر سترګو لاندې ګرځي را ګرځي. د جي سي ستاهل له خوا یوه ډېره پراخه څېړنه تر سره شوې ده. دا څېړنه په ګوته کوي، چې په امریکا کې د کارکوونکو تر منځ د ناخوښۍ تر ټولو ستر لامل د رهبرانو او مدیرانو له خوا د هغوی نه تشویق کول دي.

ټول غواړي چې وستایل شي. ان ډېره کوچنۍ ستاینه هم لویه لار وهلی شي. د اوسنۍ زماني لویانو ته که تاسو پام وکړی، له بلوغ مخکې یې هم چې کوم ستاینلیکونه اخیستي دي، په لیدلو یې خوشاله کېږي او ویاړ پرې کوي.

خبره د ستاینې ده. د ځینو کسانو نومونه مو په ذهن کې درسره وساتئ او بیا ورته غبر وکړئ. نورو ته ارزښت ورکړئ، ټول هغه کسان چې له تاسو سره کار کوي و یې ستایئ، ځکه دغه کار ورته انګېزه ورکوي. په دې ډول سره کولی شی، د ډېرو پر ژوند مثبت اغېز و ښیندی.

کله چې څوک هڅول کېږي، کولی شي پر ناممکنو کارونو او لویو ستونزو هم غلبه وکړي.

له هڅونې پرته به ډېر کم داسې شی پیدا شي، چې په دې برخه کې ګټور تمام شي. الماني شاعر او فیلسوف وایي: «د انسان اصلاح کول، ډېر وخت نیسي، خو هڅول بیا داسې لګېږي، لکه په ژمي کې له حمام کولو وروسته لمر».

وېلیم وارډ وایي: «که غوړه مالي وکړی، کېدای شي در باندې باور ونه کړم، که نیوکه را باندې وکړی، کېدای شي ښه مې ونه ایشی، که بې احترامي راته وکړی، کېدای شي ومو نه ښښم، خو که مې وهڅوی؛ هېڅکله به مو هېر نه کړم».

تشویق او هڅونه د بریالي ژوند لپاره کلي ده. هغه کسان چې هڅول کېږي پر هر ډول ستونزو غلبه کولی شي او هغه کسان چې هڅول کېږي اغېزناک هم وي.

دا زده کړئ، د دې پر ځای چې یوازې د ځان په اړه فکر وکړی، نورو ته لومړیتوب ورکړئ. ځان د هغوی پر ځای فرض کړئ. دا کار اسانه هم نه دی، خو دا چې له نورو سره مینه وکړی، مینه ورکړی او ویې هڅوی، د دې ګټه او خوند بیا له کچې زیات دی.

## کورنیو چارو وزارت: د فوټبال فدراسیون د پخواني رییس د نیولو هڅې چټکې شوې دي

که څه هم د عدلي او قضایي ارګانونو لهخوا، د افغانستان د فوټبال فدراسیون د پخواني رییس کرام‌الدین کریم د نیول کېدو له حکم نږدې یوه میاشت تېرېږي، خو نوموړی لا هم نه دی نیول شوی.

د کورنیو چارو وزارت ویاند نصرت رحیمي ازادي راډیو ته ویلي، د کرام الدین د نیولو لپاره د دغه وزارت هڅې تېزې شوې دي.

نوموړي ویلي: «په دې برخه کې د لویې څارنوالۍ لهخوا یو مکتوب کورنیو چارو وزارت ته رسېدلی، موږ خپلو اړوندو څانګو ته جدي سپارښتنې کړې چې د هېواد د نافذه قوانینو پر بنسټ، په دغه برخه کې جدي قانوني چلند تر سره کړي».



شاوخوا یوه میاشت مخکې د افغانستان د فوټبال فدراسیون پر پخواني رییس کرام الدین کریم، د فوټبال د ښځینه لوبغاړو د جنسي ځورونو د تورونو له امله، د ګمارل شوي پلاوي له خوا، کورنیو چارو وزارت ته د نوموړي د نیولو حکم لېږل شوی و.

دا په داسې حال کې ده چې د فوټبال نړیوال فدراسیون یا فیفا هم کرام الدین کریم، د تل لپاره په ملي او نړیواله کچه، د فوټبال له فعالیتونو منعه کړی دی. د فیفا د اخلاقي کمېټې قضایي برخې د جون په اتمه ښاغلی کریم، له صلاحیتونو څخه په ناوړه ګټې اخیستنې او د فوټبال د ښځینه لوبغاړو پر جنسي ځورونو ګرم بللی او د یو میلیون نغدو امریکایي ډالرو پر ورکړه یې جریمه کړ.

په ورته وخت کې د حقوقي چارو پوهان وایي، د عدلي او قضایي ارګانونو لهخوا د یوه کس د نیولو له حکم وروسته، د کورنیو چارو وزارت باید پرته له ځنډه، تورن کس ونیسي.

کبیر رنجبر وایي: «کله چې یو حکم صادرېږي، باید پرته له ځنډه پلی شي، خو که نه پلی کېږي، حتماً یو دلیل لري، یا منطقي دلیل چې د منلو وړ دی یا د فساد مسئله ده، یا دا چې د شخص ځانګړی ادرس معلوم نه دی. په دې صورت کې یو معقول عذر دی او که دغه معقول عذر او دلایل نه وي، معذرت نه قبلېږي او مسئله د قانون نقض دی».

ځینې عام خلک په دې هکله انتقاد کوي او وایي چې دا یوازینی مورد نه دی، چې د قانون حکم په خپل وخت نه پلی کېږي؛ بلکې مخکې له دې هم پر ځینو تورنو زورواکو او چارواکو، قانون نه دی پلی شوی.

## سوداګر: د افغانستان بانکي سیستم له جدي ننګونو سره مخ دی

د افغانستان بانکي سیستم له جدي ستونزو سره مخ دی او په لوړه کچه د فساد اندېښنې پکې موجودې دي.

د افغانستان سوداګریز بانک رییس وایي، د افغانستان بانکي سیستم د سالمې رهبرۍ نه موجودیت او د منافعو د تضاد له امله له جدي ستونزو سره مخ دی او مسوولین یې په مالي فساد کې ښکېل دي.

اندېش وایي، د افغانستان بانک په غیر قانوني توګه د افغانستان سوداګریز بانک چارې ځنډولې دي.

نوموړی پر حکومت تور لګوي، چې د زور او ظلم له امله یې په افغانستان کې څلور خصوصي بانکونه تړل شوي دي، خو د افغانستان بانک مسوولانو په دې تړاو تر اوسه څه نه دي ویلي.




د افغانستان بانک له خوا د افغانستان تجارتي بانک چارې د تصفیې په هدف ځنډول شوې، خو د تجارتي بانک مسوولین د حکومت دا کار غیر قانوني بولي.

د افغانستان تجارتي بانک رییس سید جاوید اندېش وایي: «په افغانستان بانک کې عمده ستونزه د ښې رهبرۍ نشتوالی دی، چې تر څو وکولای شي چې په خپلواکه توګه تصمیم ونیسي».

دغه افغان سوداګر وایي، حکومت خصوصي بانکي سکټور ته هېڅ توجه نه کوي او له همدې امله ځینې سوداګر خپلې پانګې له هېواده باسي.

نوموړی وایي، دوه کاله کېږي، چې حکومت په زور د ده بانکي حسابونه هم تړلي دي.

د افغانستان سوداګریز بانک مسوولان داسې مهال د افغانستان په بانکي سیستم کې د ستونزو خبره کوي، چې د دوی په باور، د افغانستان بانک په غیر قانوني توګه د افغانستان سوداګریز بانک چارې د تصفیې په هدف ځنډولې دي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۸۰ |
| € | ۹۱,۲۰ |
| Rp. | ۵۲۰ |
| ₹ | ۱۱۵۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۱۰۲ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



سه شنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ څلورمه | د ۲۰۱۹ د جون ۲۵مه | دریيم کال |۳۹۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۷ | ٤۰ | ۳۸ | ٤۰ | ۳۳ |
| ۱۲ | ۲۰ | ۲۰ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۷ | لمر ختل ۰٤:٤۱ | ماسپښین ۱۱:۵٦ | مازیګر ۰۳:٤۳ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ



# پامپيو: متحده ایالتونه د ایران پر ضد د نړیوال ائتلاف د جوړولو هڅه کوي

۳

## حوثيانو يو ځل بيا د سعودي عربستان پر هوايي ډګرونو بريدونه کړي دي



د سعودي پر مشرۍ عربي ائتلاف ويلي، د يمن حوثي ياغيانو په عربستان کې پر يوه ملکي هوايي ډګر بريد کړی دی.
دغه ائتلاف چې د حوثيانو پر وړاندې جنګيږي، ويلي چې په پېښه کې يو کس وژل شوی او ۲۱ نور ټپيان شوي دي.
بلخوا د حوثيانو يوه ویاند پرون ويلي چې وسله والو يې د سعودي عربستان په جنوب کې د بې پيلوټه الوتکو په مرسته ابها او جازان هوايي ډګرونه په نښه کړي دي، چې درنه مرګ ژوبله يې اړولې ده. خو د سعودي عربستان په مشرۍ ائتلاف پر جازان هوايي ډګر د بريد خبر نه دی تاييد کړی.
دغه ائتلاف ويلي، پر ابها هوايي ډګر چې د يمن سرحد ته نږدې پروت دی، په بريد کې يو تن چې په عربستان کې مېشت د سوريې وګړی و، وژل شوی او ۲۱ ملکيان ټپيان شوي دي.
دا لومړی ځل نه دی چې حوثيان پر سعودي بريد کوي، بلکې تر دې وړاندې هم د رواني ميلادي مياشتې په پيل کې د حوثيانو د هغه ميزايل په چاودنه کې چې ابها هوايي ډګر يې په نښه کړی و، ۲٦ کسان ټپيان شوي وو.
سعودي عربستان بيا تور پورې کوي چې ايران د حوثيانو ملاتړ کوي چې د دغه ائتلاف پر وړاندې وجنګيږي.

## د استانبول د ښاروالۍ ټاکنې د حکومت مخالف ګوند ګټلې دي



د ترکيې د استانبول د ښاروالۍ په ټاکنو کې د شمېرل شويو رايو پايله ښيي، چې د مخالف ګوند غړی اکرام امام اوغلو بريالی شوی دی.
د ترکيې پخواني لومړي وزير او له حاکم عدالت ګوند څخه دغه پوست ته نوماند بن علي يلدريم خپل سيال امام اوغلو ته د بريا مبارکي ويلې ده.
امام اوغلو په خپله وينا کې د هغه بريا د ترکيې او استانبول لپاره يو نوی پيل ياد کړی دی.
هغه ويلي: «موږ د استانبول لپاره يوه نوې پاڼه پرانيسته او په دې پاڼه کې به عدالت، برابري او مينه وي».
نوموړي دغه راز ويلي، غواړم د ترکيې له ولسمشر رجب طيب اردوغان سره مرسته وکړم. هغه اردوغان ته په خطاب کې ويلي: «ښاغلی ولسمشره! زه چمتو يم چې ستاسې سره په ګډه کار وکړم».
په تېرو ۲۵ کلونو کې د استانبول ښار د اسلامپالو او په ځانګړې ډول د عدالت او پرمختيا ګوند په لاس کې و.
له دې ډلې لومړنی هغه يې اردوغان و چې په ۱۹۹۴ ز کال کې وتوانېد، د اسلامپالو په ملاتړ د استانبول ښاروال شي.
د ښاروالۍ د ورمې ورځې په ټاکنو کې اوغلو ۵۴ او يلدريم بيا ۴۵،۱ سلنه رايې خپلې کړې دي.
د چارو شنونکي پر دې باور دي چې دا ماتې د ولسمشر اردوغان ده. کله چې اردوغان د استانبول ښاروال و، پر دې باور و چې هر څوک په استانبول کې بريالی شي، دغه هېواد يې خپل کړی دی.


## اتحادیه مرغداران:
## باید جلو واردات محصولات مرغی از ایران گرفته شود



اتحادیه مرغداران ولایت هرات، هشدار میدهد که اگر دولت به واردات قاچاقی محصولات مرغی توجه نکند، سه هزار فارم مرغداری در آن ولایت ورشکست خواهند شد.
داکتر ضیاءالحق رحمانی رئیس اتحادیه مرغداران هرات گفته است که واردات قاچاقی محصولات مرغی، سبب شده است تا بیشتر فارمداران متضرر شوند.
وی افزوده است: «نگرانی شدید ما از این است که محصولات مشابه به صورت قاچاق می آید، نه تکس محصولی پرداخت می کند و نه هم از مدیریت صحت حیوانی ما قرنطین می‌گذرد تا تشخیص داده شود که چقدر کیفیت دارد، و میتواند به بازار ما مؤثر واقع شود و این باعث شده که ما متضرر شویم».
موصوف همچنان گفته است که در هرات سه هزار فارم مرغداری فعالیت می‌کنند و بالای آنان بیش از یک میلیارد دالر سرمایه گذاری شده و اگر دولت به واردات قاچاقی محصولات مرغی توجه نکند، آنان ورشکست خواهند شد.
او گفته است: «از جمله سه هزار فارم ۲٤۰۰ آن، مربوط به فارم‌های گوشتی می شود که روزانه بین ۷۷ تا یکصد تن تولید گوشت مرغ دارند؛ اگر مارکیت تقاضای تولید بیشتر را هم داشته باشد، ما دو برابر و یا سه برابر این هم توان تولید را داریم».
برپایه معلومات رحمانی، ٦۰۰ فارم دیگر مربوط به تخم مرغ می گردد که روزانه یک ونیم میلیون تخم مرغ تولید می گردد.
در همین حال فارمداران پرورش مرغ می‌گویند که کمبود دانه مرغ و واردات قاچاقی گوشت مرغ از طریق مرز ولایت‌های هرات، فراه و نیمروز با ایران، باعث شده است تا کار وفعالیت آنان با مشکل روبرو شود.

## ژوند

## د سهار چای نه څښل د زړه او فلج ناروغي پيدا کوي



ډېری خلک د ورځنیو مصروفيتونو له امله د سهار چای له څښلو پرته ښوونځيو او دفترونو ته ځي.
په دې وروستيو کې د يوې نوې څېړنې پر بنسټ، روغتيايي کارپوهان وايي چې د سهار چای نه څښل، انسان د فلج او زړه پر مختلفو ناروغيو اخته کوي.
په دغه څېړنه کې د ۱۳۰۰۰۰ کسانو ژوند څېړل شوی، چې ۴۵ او يا له دې څخه د زيات عمر لرونکي نارينه او ښځې پکې شاملې دي.
په دې څېړنه کې څرګنده شوې چې هغه کسان چې په اونۍ کې ډېر ځلې د سهار چای نه څښي، هغوی نسبت نورو کسانو ته ډېر د فلج پر ناروغۍ اخته کيږي، چې له همدې امله ډاکټران وايي، په هيڅ صورت بايد د سهار چای پرې نه ښودل شي.
په دې څېړنه کې د څېړل شوو کسانو له جملې څخه ۳۷۷۲ کسان د فلج او ۸۷۰ کسان د زړه پر ناروغيو اخته شوي.
له دې څخه څرګندیږي چې په هر ۱۰۰ هغو کسانو کې چې د سهار چای نه څښي، ۲۰ کسه يې د زړه او يا هم فلج پر ناروغيو اخته کيږي.
دغه څېړنه د اوساکا پوهنتون د ساينسپوهانو لخوا ترسره شوې، په کوم کې چې د خلکو بدني روغتيا له نږدې څخه تر نظر لاندې نيول شوې او څېړل شوې.

## موخې ته د رسېدو باور بايد موجود وي



براين ټريسي د «موخې» په نوم کتاب کې ببلګه راوړې ده، هغه وايي: «کله مې چې له يوه زده کوونکي وپوښتل چې د خپل ځان لپاره يو هدف وټاکي، زده کوونکي ووېل، زه غواړم په ټوله نړۍ کې د يوه کال په اوږدو کې سوله راولم».
ټريسي په ډېر احترام ترې وپوښتل: «ايا ته د ملګرو ملتونو سرمنشي يې؟»
- نه
- د امريکا ولسمشر يې؟
- نه
- د يوې لويې مذهبي او معنوي ډلې مشر يې؟
- نه
- ښه نو چې داسې ده بيا خپل کار کوه، ستا يې په نړیواله سوله څه! ته هڅه وکړه چې خپله کورنۍ دې په سوله کې ژوند وکړي.
هدف مو بايد د باور وړ وي او تر ډېره امکان ولري. که د ځان لپاره مو داسې يوه موخه وټاکله، چې پوهېږې پر وس مو پوره نه ده، په اصل کې مو د خپلې ماتې لپاره نقشه جوړه کړې ده؛ ځکه يو وار مو داسې موخه د ځان لپاره ټاکلې چې پوهېږې، ورته رسېدای نه شې او بيا يې چې کله د لاسته راوړلو لپاره هڅه کوې، تل به غمګین او پرېشانه ياست.